AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۰۴/۲۱

# د غازي میرزا جنرال یار محمد خان وزیري
# د خاطراتو کتاب چاپ شو




د مرحوم غازي میرزا جنرال یار محمد خان وزیري د خاطراتو کتاب، له پښتو ژبې دري ژبې: (تاریخ استقلال و نجات افغانستان) په ۴۱۷ مخونو کې په اعلی صحافت او لوړ کیفیت سره په ۲۰۰۰ ټوکو کې له چاپه راووت، نوموړی کتاب د غازي صاحب قدرمن زوی فدا محمد نومیر په زیار او د هلمند اخړ وزیر (د کابل د پولیتخنک پوهنتون د کمپیوټر ساینس د دویم ټولګي محصل) له خوا په روانه او ساده دري ژبه ژباړل شوی دی، سمون (تصحیح) سپړنه (شرح) او نښلوني (تعلیقات) یې ما (محمد انور اخړ) لیکلي دي، د پښتې طرحه هم هلمند اخړ کړي ده.

د کتاب له لیک لړ (فهرست) وروسته د مرحوم جنرال صاحب انځور چاپ شوی دی، وروپسې هم یو ښاغلی حبیب الله رفیع، ښاغلي ډاکټر ببري ګل وزیري (ګل لالا)؛ ښاغلي فدا محمد نومیر او مرحوم جرنېل یار محمد خان وزیري او په پای کې هلمند اخړ په زړه پورې او ګټورې سریزې لیکلي دي. وروپسې د کتاب اصلي متن پیل کیږي چې د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله د واکمنیو پر مالوماتو څرخي، بیا د امیر امان الله خان او د خپلواکۍ په جګړه، په ځانګړي توګه د وزیرستان په سیمه کې تر ټولو ښه مالومات وړاندې کوي.
بیا د پاچا امان الله د ماتې او د سقاؤ د زوی پر شرارتو رڼا اچول شوې ده او له جنرال نادر خان سره د غازي یار محمد خان په جګړه ییزو مرستو مالومات خپاره شوي دي او د وزیرستان د اتلانو لخوا د کابل فتح باندې ناویلي مالومات وړاندې کوي.
د نادر خان پر وعده خلافیو هم غږیږي او په ضمیمو کې اړونده نښلوني؛ د غازي صاحب په اړه د انګرېزانو د تلګرامونو انګریزي انځورونه او ژباړي خپرې شوي دي او د پاچاهي رسمي فرمانونو انځورونه هم چاپ شوي دي چې په غازي صاحب پورې اړه لري او په وروستنۍ برخه کې د لیکوال (غازي صاحب) د کورنۍ شجره هم ښکل شوې ده.
باید ووایو چې نوموړی کتاب څېړونکو او تاریخ لیکونکو ته ډېر ارزښتمن سند دی چې هغه تیاره اړخونه په ګوته کوي چې وړاندې له دې پټ پاتې وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په پای کې د مرحوم غازي صاحب قدرمنو زامنو هر يو فدا محمد نومير، خير محمد نومير او د دوی درني او ستړي کورنۍ ته د کتاب د چاپ مبارکي وړاندې کوم او کورودانی ورته وايم چې د کتاب د چاپ په مالي او هره برخه کې يې اړيني مرستې کړې دي. د کتاب ژباړن هلمند اخړ وزير (چې په دې کم عمر کې د ژوند په هر اړخ کې بريالی دی) هم مبارکي او دعا ورته کوم.
د کتاب مينه وال، د روان کال د غوايي مياشتې له ۱۰مې نېټې کولی شي، په کابل کې د خوشال بابا فکري بهير ځخه په وياړ توګه تر لاسه کړي او هغه ښاغلي چې په بهر کې اوسيږي او د کتاب غوښتونکي دي د خپلو دوستانو په واسطه يې له پورته ادرسه تر لاسه کړي.

اړيکو شمېره واتسپ: 0778689660

په درناوي
نېټه:۱۴۰۴/۱/۳۱ل. ل


مرحوم جرنيل يار محمد خان (وزيري)


د کتاب ژباړن (هلمند اخړ وزير)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ